مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی

۲۰۱۸/۱۱/۱۴

# غزل

نه به خوښوو داسي بېباکه قام
وژنو به جونون چي شو خپلواکه قام

جګ سرونه، برندي سترګي خاوري شوي
خدايه! راته جوړ کړه بيا د خاکه قام

دوه ټوټي ښکاره او نوري پټي دي
ځکه يو کمزوري او بېواکه قام

زه به هم پوره هڅه، کوښښ کړم خو
ته هم را بيدار کړه بسم الله که قام

راشئ د نفرت جرړي به و سېځو
ځان به مکمل کړو مينه ناکه قام

څه به پسرليه! ترېنه طمع کړم
وي چي راپسي دغه بې ځواکه قام

مصطفی پسرلی
29/09/2018


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ